مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د زمري شپږمه | د ۲۰۱۹ د جولای ۲۸مه | ۴۱۱مه ګڼه

# ټاکنیز کمپاین پیل شو؛

## خو څارونکي بنسټونه بیا د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو د بحراني کېدو اندېښنه لري




۳

### ټاکنیز کمپاین، هوايي ژمنې او د ولس غوښتنه

۲ مخ

### د ۲۰۱۹ ز کال ولسمشریزې ټاکنې؛ ننګونې او حللارې

۲ مخ

### تأثیر دیابت بر درمان زخم؛ چیزهایی که باید بدانید

۵ مخ

## پوهنتون

۴ مخ

### پامیر د لوړو زده کړو موسسه

د پامیر د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال استاد نظیف الله نفیس وایي، دغه موسسه اوسمهال ټول څلور پوهنځي لري او په جنوب ختیځ زون کې یوازینۍ د لوړو زده کړو موسسه ده چې په یاده کچه پوهنځي لري.

### په خوست کې د ۱۴۵ میلیونو افغانیو په لګښت، پنځه پلونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول



په خوست کې د ۲۴۷ پروژو چارې پیل او د ۱۴۵ میلیونو افغانیو په لګښت پنځه لوی پلونه له جوړېدو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.
په دغو مراسمو کې د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست په چوکاټ کې، د ۵۹۸ میلیونو افغانیو په لګښت د ۲۴۷ پروژو چارې پیل او ۴۵ نورې پروژې چې پرې ۲۲۴ میلیونه افغانۍ لګښت شوی، ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.
د یاد ولایت مقام وايي چې دغه راز د سړکونو د څارنې او ساتنې ریاست په چوکاټ کې د ۱۴۵ میلیونو افغانیو په لګښت پنځه لوی پلونه هم چې د دغه ولایت په بېلابېلو سیمو کې جوړ شوي دي، ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.
د چارواکو په خبره، د دغو پلونو په جوړېدو سره به تر ډېره د خلکو ستونزې راکمې شي.

### ملګري ملتونه: په افغانستان کې روان وضعیت د اندېښنې وړ دی

د ملګرو ملتونو امنیت شورا په افغانستان کې پر روان وضعیت اندېښنه ښودلې ده.
د دې شورا غړو په افغانستان کې وروستي ځانمرګي بریدونه او تاوتریخوالی په کلکو ټکو غندلي او دلته د روان امنیتي حالت په اړه یې اندېښنه څرګنده کړې ده.
د امنیت شورا غړو ویلي چې په افغانستان کې روانه جګړه له سیاسي لارو د حل وړ ده، خو د سولې له خبرو سره هممهاله د جګړې شدت د ملکي وګړو ژوند تریخ کړی دی.
د ملګرو ملتونو امنیت شورا د جګړې پر ښکېلو خواوو غږ کړی چې د ملکي وګړو ژوند ته پام وکړي او د بشري حقونو ټولو قوانینو ته درناوی ولري.
د ملګرو ملتونو امنیت شورا دغه اندېښنه داسې مهال ده چې له طالبانو سره د سولې په خبرو کې له پرمختګونو سره په افغانستان کې د جګړې شدت هم زیات شوی دی او هره ورځ په هوایي، ځانمرګو بریدونو او شپنیو عملیاتو کې لسګونو افغانانو ته مرګ ژوبله اوړي.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په قطر کې د امریکایي پلاوي او طالبانو ترمنځ د افغان سولې په تړاو خبرې حساس پړاو ته داخلې شوې، نو له همدې کبله ډېری کارپوهان پر دې باور دي چې د جګړې دواړو لورو د سولې په روانو خبرو کې د ډېرو امتیازاتو د تر لاسه کولو لپاره د جګړې په ډګر کې فشارونه زیات کړي دي.

### که نوماندان خپلې پانګې ثبت نه کړي، بنايي له ټاکنو وایستل شي



۳ مخ

### انجمن تغییر و امید: تقرر اخیر در کرکت بورد سیاسی و کمپاینی است



شماری از فعالان مدنی و برخی کارشناسان کرکت، تقرر رئیس جدید کرکت بورد از سوی رئیس جمهور را تلاش سیاسی و کمپاینی عنوان نموده و استخدام فرد غیرمسلکی در این اداره را خیانت بزرگ به کرکت کشور تلقی می کنند.
این در حالی است که رئیس جمهور هفتهٔ گذشته به جای عزیزالله فضلی، فرحان یوسفزی را منحیث رئیس عمومی اداره کرکت بورد تعیین نمود.
یوسفزی تاکنون در عرصه کرکت هیچ اجرای وظیفه نکرده، ولی گفته می شود که تا درجه ماستری در امریکا تحصیل نموده و در بخش تجارت تجربهٔ زیاد دارد. برخی فعالان کرکت و اعضای انجمن تغییر و امید، دیروز در کابل پیرامون تقرر اخیر در اداره کرکت بورد، نشست اعتراضی را تدویر کردند.
امام الدین اوریاخیل عضو انجمن متذکره گفت که به اساس قوانین شورای جهانی کرکت، هر کشوری که کرکت بورد آن، شکار مداخلات سیاسی باشد، در نهایت با تعزیرات از سوی اداره کرکت بورد مواجه خواهد شد.
موصوف علاوه کرد: «اکنون کرکت بورد تحت فشار سیاسی قرار دارد و تقرر اخیر؛ سیاسی، کمپاینی و غیرمسلکی است».
عبدالوکیل عشرتی عضو دیگر انجمن متذکره گفت که استخدام غیرمسلکی در اداره کرکت بورد، در برابر رشد نوجوانان و جوانان مانع واقع شده است و بازی کردن ورزشکاران جوان در تیم، خواست همه کرکت دوستان افغان است. وی علاوه کرد: «فرحان در انتخابات گذشته، مصروف کمپاین برای رئیس جمهور بود و این تقرر رئیس جمهور نیز کمپاینی است».

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life



دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

### ټاکنيز کمپاين، هوايي ژمنې او د ولس غوښتنه

د ولسمشريزو ټاکنو لپاره ټاکنيز کمپاين نن پيليږي او دوې مياشتې به دوام کوي. د ټاکنو کمېسيون له کانديدانو غوښتي چې د يو بل له تخريب، گډوډۍ، په پوځي ځايونو کې له کمپاين، د بهرنيو مرستو له تر لاسه کولو او دولتي امکاناتو له کارولو څخه په کلکه ډډه وکړي. کمېسيون دغه راز د نورو اصولو د مراعاتولو خبره هم کړې ده او ويلي يې دي چې ټولو قوانينو او مقرارتو ته درناوی، نورو کانديدانو ته درناوی، په برابره توگه رسنيو ته لاسرسی، د کمپاين مودې رعايتول، د مالي راپور وړاندې کول او داسې نور هغه څه دي، چې کانديدان بايد ورته پام وکړي.

ټاکنيز کمپاين په داسې وخت کې پيليږي چې خلک د ټاکنو پر ځای سولې ته لومړيتوب ورکوي او غوره گڼي چې ټاکنې ونه شي او پر ځای يې له وسله والو مخالفينو سره جوړجاړی وشي. لا هم کره معلومه نه ده چې ټاکنې به وشي او که نه، خو حکومت پر ټاکنو ټينگار کوي. را روانې ټاکنې که وشي هم، پر وړاندې يې څو اساسي خنډونه شته چې ښکاري مور به ښې ټاکنې ونه لرو. تر گردو لويه ننگونه دا ده چې پر نيم افغانستان طالبان واکمن دي او په نيم نور کې هم په ټيټه او لوړه کچه گواښ رامنځ ته کولی شي، نو په داسې فضا کې به ټاکنې سختې وي. له بله اړخه خلک د ټاکنو پر ځای سولې ته لومړيتوب ورکوي او په ټاکنو کې برخې اخيستو ته زړه نه ښه کوي. يوازې سوله هم نه ده، بلکې په تېرو ټاکنو کې درغلۍ او د محمد اشرف غني لخوا د خلکو په رايو ملنډې او د اساسي قانون خلاف د جان کيري پر مټ د ملي يووالي حکومت جوړول هم هغه څه دي، چې خلک يې په ټاکنو کې له گډون څخه زړه توري کړي دي. د دې تر څنگ، سر له اوسه ښکاري چې حکومت به په پراخه کچه په ټاکنو کې لاسوهنه کوي، دولتي امکانات به کاروي، صندقونه به ډکوي او خپل واک به غځوي. له همدې امله را روانې ټاکنې يوه ناکامه حکومتي پروسه ده چې يوازې د اوسنيو چارواکو وخت غځوي. د ټاکنو کمېسيون د اصولو د مراعاتولو خبرې کوي، خو له زورورو حکومتي کانديدانو سره به څوک حساب کتاب وکړي. دوی به اصول مات کړي او سر له اوسه يې مات کړي، دولتي واک او ځواک کاروي او هر څه په خپله خوښه مخکې وړي. تر دې بده يې لا دا چې دوی به بيا خلکو ته دروغ وايي او بيا به د خلکو په سترگو کې خاورې شيندي. بيا به وايي چې د ننگرهار سبزي فرانسې ته وړم، د باميانو او وردگو کچالو هالنډ ته وړم، افغانستان د آسيا پر څلور لارې بدلوم، مشاورين نه مقرروم، امنيت راولم، په واسطه خلک نه گومارم، د مسجد او ښوونځي فاصله را لنډوم... . دوی به بيا زموږ د خلکو په پر پوهه او شعور ملنډې وهي او بيا به داسې ژمنې کوي چې د خلکو سترگو کې د خاورې شيندلو مانا لري.

رښتيا دا دي چې را روانې ټاکنې د افغانستان په زيان دي. موږ بايد سولې ته لومړيتوب ورکړو او پرې نه ږدو چې د قدرت څو لونيان د خپل واک د دوام لپاره موږ پنځه کاله نور هم په وينو او وژنو کې را گېر کړي او دوی خپل واک وغځوي.

# د ۲۰۱۹ ز کال ولسمشريزې ټاکنې؛ ننگونې او حللارې

د افغانستان د چارو مرکز تحليلي راپور

افغانستان د ۲۰۱۹ ز کال د سپټمبر ۲۸مي نېټې د ولسمشريزو ټاکنو لپاره د چمتووالي په درشل کې دی. له ۲۰۰۱ ز کال راهيسې چې په افغانستان کې د نوي نظام بنسټ اېښودل شوی، دا د ولسمشرۍ لپاره څلورم ځل ټاکنې دي چې د تر سره کېدو پلان يې چمتو شوی دی. د افغانستان د ولسمشرۍ دا ټاکنې په داسې مهال کې تر سره کېږي، چې د رايې ورکولو له ټاکل شوې نېټې څخه دوه ځله د مخه د ټاکنو نېټه بدله شوه. د ولسمشريزو ټاکنو د بېلابېلو ټکټونو له نظره د ولسمشرۍ د ټاکنو د ځنډ په اړه مختلف حقوقي نظرونه موجود دي، په تېره بيا دا چې له اساسي قانون څخه بېلابېل تفسيرونه کېږي. د ۲۰۱۴ ز کال ولسمشرۍ ټاکنې د دوو کانديدانو تر منځ د شخړو تر بريده ورسېدې چې بالاخره د امريکا د بهرنيو چارو پخواني وزير جان کيري مداخله وکړه او د دواړو کانديدانو تر منځ يې د ملي يووالي د حکومت بنسټ کېښود. د ملي يووالي حکومت مشرانو د خپلې کاري دورې په پيل کې ژمنه وکړه چې د ټاکنو په کمېسيونونو او د ټاکنيزو کمېسيونونو مشرتابه کې به ژور اصلاحات راولي. سږ کال د ولسمشرۍ ټاکنې په داسې حال کې تر سره کېږي، چې د ملي يووالي حکومت له لوري په ټاکنيزو کمېسيونونو کې اصلاحات نه شي تر سره کېدی. که څه هم د ملي يووالي حکومت د ټاکنو خپلواک کمېسيون او د ټاکنيزو شکايتونو د اورېدو کمېسيون کميشنران نوي پر دندو وگومارل، له مختلفو ادرسونو د نويو کميشنرانو پر ټاکل کېدو نيوکې وشوې، چې په پايله کې يې ولسمشر مجبور شو چې له لنډې مودې وروسته د دواړو کمېسيونونو مشران له دندو لرې کړي.

په داسې حال کې چې د ولسمشرۍ د نوماندانو او شنونکو تر منځ اندېښنې شته، د دغې موضوع په اړه د بحث او د نوماندانو تر منځ د رغند تفاهم نشتوالی دا اندېښنې لا پياوړې کوي. په دې سربېره، د دغو اندېښنو د له منځه وړلو لپاره د يوې اجماع له مخې پلان او داسې هوکړه هم نشته چې ټول لوري د لوبې په قاعده سره يوه خوله کړي. د دې لپاره چې د را روانو ټاکنو پر وړاندې پراته خنډونه لېست شي، بحث پرې وشي او حللارې ولټول شي د ټاکنو د تخنيکي متخصصينو، سياسي شخصيتونو او د ټاکنيزو ټکټونو د غړو تر منځ رغند بحث ته اړتيا ده. د همدې موخې لپاره د افغانستان د چارو مرکز د هيواد ځينو سياسي مشرانو، د ولسي جرگې غړو، د ټاکنيزو کمېسيونونو کميشنرانو، پر انتخاباتو د نظارت خپلواکو ادارو مشرانو او د نظر خاوندانو تر منځ ناسته برابره کړه، څو د ولسمشرۍ راتلونکو ټاکنو پر وړاندې شته ستونزې تشخيص کړي او د حل په موخه يې پر لازمو لارو خبرې وکړي.

دغه تحليلي بحث د ۲۰۱۹ ز کال د جون په شلمه نېټه وشو. په بحث کې د مدني ټولنو غړو، د پارلمان غړو، د ټاکنو خپلواک کمېسيون کميشنر، د ټاکنو اړوند خپلواکو ادارو ناظرينو، حقوق پوهانو ، د ولسي جرگې کانديدانو، د ولسمشر مشاورينو او د معلوماتي ټکنالوژۍ پوهانو گډون درلود. د گډونوالو تر منځ ازاد بحث وشو، هر گډونوال خپل نظر له کوم ممانعت پرته څرگند کړ. د بحث نظرونه، له گډونوالو سره د شوې سلا په رڼا کې، اشخاصو ته نه منسوبيږي، يانې د نوم له اخيستلو پرته په دې راپور کې هغو موضوعاتو ته اشاره کيږي چې بحث وربانديې شوی دی.

## د بحث اصلي ټکي

په بحث کې د ټاکنو په خپلواک کمېسيون کې د خپلمنځي نه همغږۍ او بې باورۍ د فضا يادونه وشوه. په غونډه کې يادونه وشوه چې د کمېسيون د کميشنرانو تر منځ د بې باورۍ فضا تر دې حده رسيدلې چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون کمېشنران په خپلمنځي ناستو کې له غونډې دمخه بايد خپل ټليفونونه د مجلس له ځايه بهر پرېږدي او د کمېسيون مشران له ټليفون او يا کومې بلې ټکنالوژيکې وسيلې پرته د مجلس خونو ته ننوزي، څو د مجلس خبرې ريکارډ نه شي. په ورته ډول د ټاکنو خپلواک کمېسيون مشران او اداري پلاوی په کمېسيون کې د استخدام په اړه واحد نظر نه لري او همدارنگه د عملياتي برخې پر سر هم دټاکنو کمېسيون مشران يو له بل سره همغږي نه لري. د بحث له محتوياتو معلوميدله چې د ټاکنو کمېسيون کميشنران تر اوسه هم خپلو منځونو کې پوره همغږي نه لري او په متفرقه ډول د کمېسيون چارې پر مخ وړي. د کمېسيون د کميشنرانو تر منځ نه همغږي او بې باوري د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو پر وړاندې، چې د سپټمبر په اته ويشتمه تر سره کيږي، بنسټيز خنډ وپيژندل شو.

دويمه موضوع چې د بحث د گډونوالو له لوري د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو پر وړاندې ستر خنډ وپيژندل شو، د ټاکنو پر پروسې د عامو خلکو د بې باورۍ کچه وه، چې لا هم د ټاکنو پر بهير عام خلک باور نه لري. د ۲۰۱۴ ز کال په ټاکنو کې د دوو مخکښو نوماندانو تر منځ اختلافات او همدارنگه په ټاکنو کې د بيروني عناصرو رول لوبول هغه څه وو، چې خلکو پر ټاکنو او د خپلې رايې پر استعمال باور له لاسه ورکړی دی. تازه تر سره شويو د ولسي جرگې ټاکنو کې د لاسوهنې، درغليو او ناسمو تعاملاتو له کبله د خلکو بې باوري لا زياته شوه. د تيرو ولسمشريزو او پارلماني ټاکنو اړوند، د خلکو بې باوري هغه څه دي چې د غونډې گډونوالو يې په اړه اندېښنه وښوده چې ښايي په راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو کې په پوره پيمانه خلک رايې کارولو ته لاړ نه شي او ټاکنې به د مشروعيت له خلا سره مخ شي.

له دې سره جوخت د ټاکنو د کمېسيونونو نوي مشرتابه ناسمې او د وخت په نظر کې نه نيولو سره د وعدې کوي، په داسې حال کې چې څرگنده ده چې دوی په خپل وخت خپلو کارونو ته رسيده گي نه شي کولای، چې دا هم د ر اتلونکو ولسمشريزو ټاکنو پر وړاندې د اساسي خنډونو په توگه ياده شوه. د مثال په ډول، د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ولسي جرگې تيرو ټاکنو پايلې شپږ مياشتې له خپل وخت څخه وروسته اعلان کړې. همدارنگه د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو لپاره يې د سپټمبر اته ويشتمه نېټه په نظر کې نيولې او د نهايي پايلو اعلان لپاره يې که ټاکنې بل پړاو ته لاړې نه شي، د نومبر مياشتې اوومه په پام کې نيولې. دا چې ټاکنې ممکن دويم پړاو ته لاړې شي او يا هم د کانديدانو تر منځ د نه قناعت مسئله رامنځته شي، هغه څه دي چې وخت به ونيسي، مگر د ټاکنو کمېسيون دغه موارد په هيڅ ډول په نظر کې نه دي نيولي. که دا وعده پوره نه شي، دا هم د نورو نوماندانو لپاره د ټاکنو د پايلې د نه منلو په پلمه بدلېدلی شي او د ټاکنيز بهير د لا ټکنې والي لامل کېدی شي.

د غونډې گډونوالو د ځينو کانديدانو منفي تعاملات هم د ټاکنو پر وړاندې ستر خنډونه حساب کړل، چې دا هم پر ټاکنو د خلکو باور او د ټاکنو بريالي تر سره کېدل زيانمنولی شي. ځينې مخکښ نوماندان وار له مخه د اوسني ولسمشر لخوا درغليو ته د لارې هوارېدو په څېر خبرې کوي. له وخته مخکې د ټاکنو پروسې سبوتاژ کولو لپاره پلمې جوړول او له ټاکنو د بايکاټ لپاره زمينه جوړول، د ځينو کانديدانو لخوا هغه څه دي چې د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو د برياليتوب چانس له گواښ سره مخ کوي. د کانديدانو لخوا د ټاکنو د پايلو نه منل او عدم قناعت هم يوه ستونزه ده چې ټاکنې له گواښ سره مخ کولای شي. د ځينو کانديدانو منفي تعاملات او حرکات د دې باعث شوي چې عام خلک پر ټاکنو خپل باور له لاسه ورکړي او د ټاکنو مسئله د عامو خلکو په ذهنيت کې پر يو مشکوک حالت بدله شي.

په ورته وخت کې د ټاکنيز بهير لپاره بې وخته پرېکړې هغه څه دي چې ټاکنې له گواښ سره مخ کولای شي. په ټاکنو خپلواک کمېسيون کې بيړنې بدلونونه هم د داسې لامل په توگه ياد شول چې ښايي له تخنيکي پلوه دغه کمېسيون له ماتې سره مخ کړي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون کميشنرانو له لوري د تيرو پارلماني ټاکنو د مسوولانو بدلول به هم د دې لامل شي، چې نوي کارکوونکي ونه شي کولی چې خپل مسووليتونه په ښه توگه ادا کاندي او له دې حساسې مرحلې په برياليتوب مخ ته لاړ شي. گډونوال په دې اند وو چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون به د دغې مهمې پروسې لپاره په تخنيکي او عملياتي ډول داسې چمتو نه وي، کوم ډول چې پکار ده.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون د کميشنرانو او د دارالانشا رييس نوي ټاکل او د وخت کموالی به د دې باعث شي چې د دواړو کمېسيونونو نوي استخدام شوي کميشنران خپلو دندو کې پاتې راشي. له يو لوري د ټاکنيزو کمېسيونونو کميشنرانو ته تر ټاکنو پورې وخت خورا محدود دی او له بل اړخه د ټاکنيزو کمېسيونونو کميشنران د ټاکنو اړوند هيڅ نوعه تجربه او کاري مخينه نه لري، چې وکولای شي خپله دنده په ښه توگه پر مخ يوسي. د غونډې گډونوالو د بې تجربې کميشنرانو گومارنه د ټاکنو پروسې پر وړاندې اساسي خنډ ياد کړ.

د غونډې گډونوالو ټاکنيزو کمېسيونونو کې د نويو کميشنرانو سياسي اړيکو ته چې اکثريت يې لري، د اندېښنې په سترگه وکتل. د ټاکنيزو کمېسيونونو مشران له مختلفو سياسي احزابو او ډلو سره تړاو لري چې له امله به يې په راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو کې د خپلواکۍ او بې پريتوب اصل ونه شي ساتلی. دا هغه څه دي چې د شفافو ټاکنو لپاره خورا مهم دي. د غونډې گډونوالو اندېښنه څرگنده کړه چې ممکن د ټاکنو پر مهال د دواړو کمېسيونونو کميشنران خپلو سياسي لوريو ته تمايل ښکاره کړي او ټاکنې د بحران لور ته يوسي.

بل لور ته د ټاکنو خپلواک کمېسيون غواړي چې د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو لپاره د بايومټريک دستگاوې واخلي، خو د ټاکنو وخت ته په کتو دا امکان نه لري چې د ټاکنو کمېسيون دې بايومټريک دستگاوې واخلي او ټاکنې دې پرې تر سره کړي. د بايومټريک سيسټم کارول په راتلونکو ټاکنو کې د مالي منابعو له استعمال پرته بله مانا نه لري. د بايومټريک سيسټمونو د استعمال او همدارنگه پر نوموړي سيسټم د پوه او اگاه کسانو گومارنه هغه څه دي چې د ټاکنو کمېسيون يې د کولو توان نه لري. د گډونوالو نظر د بايومټريک دستگاه استعمال په اړه دا و، لکه څرنگه چې په تيرو پارلماني ټاکنو کې له بايومټريک دستگاوو څخه گټه اخيستنه ناکامه ثابته شوه، نو همدارنگه به په راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو کې د بايومټريک دستگاه کارول د حل پر ځای په ټاکنو کې نورې ستونزې راولاړې کړي.

د گډونوالو نظر د نړيوالې ټولنې په اړه هم دا و چې دا ټولنه په تيرو ټاکنو کې د نيمگړتياوو په اړه غلې پاتې شوه او همدارنگه يې د يو نړيوال همکار په توگه د ټاکنو په مسئله کې د حکومت پر کړنو سالم او درست نظارت ونه شو کړای. د ټاکنو په اړه د پاليسۍ جوړولو پر مهال بايد نړيوالې ټولنې د افغانستان دولت ته لازمې مشورې ورکړې وای، خو له بده مرغه داسې ونه شول. خو په ولسمشريزو ټاکنو کې د گډونوالو نظر دا و چې نړيواله ټولنه بايد په پوره دقت او تدبير سره نوموړې ټاکنې وڅاري.

پر ټاکنو د څار بنسټونو د چارو په اړه هم له حکومت او په ځانگړې ډول د ټاکنو خپلواک کمېسيون څخه خپله ناخوښي څرگنده کړای شوه، چې په ټاکنيزو پروگرامونو کې د ټاکنو د څار بنسټونه د موضوع حاشيې ته پريښودل شوي. د ټاکنو پر څار ملي بنسټونه په ځانگړي ډول هغوی چې له نړيوالې ټولنې څخه مالي امکانات تر لاسه کوي، ممکن په ټاکنو سم نظارت کولو ته زړه ښه نه کړي. د ناستې برخوالو په خپلو خبرو کې اندېښنه وښوده چې د ټاکنو له تر سره کيدو دمخه، ځينې کانديدان پر خپله ماتې يقيني شوي او له اوسه د ټاکنو د کمېسيون بدنامولو او همدارنکه د ټاکنو د پروسې د بدنامولو لپاره په پراخه توگه کمپاين او هڅې کوي. په دې برخه کې ځينې کانديدان د خپلو سياسي امتيازاتو تر لاسه کولو لپاره د ټاکنو پروسې له بدنامولو ناوړه گټه اخلي.

د ناستې برخوالو د رايه ورکونکو پر لېست هم اندېښنه څرگنده کړه. په دې برخه کې گډونوالو زياته کړه چې د ټاکنو کمېسيون ونه شو کړای چې د رايه ورکونکو يو معتبر او بشپړ لېست جوړ کړي، څو ترې په راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو کې ترې کار واخيستل شي. د رايه ورکونکو لېست د افغانستان د نفوس او احصايې په نظر کې نيولو سره بشپړ او اماده شوی لېست نه دی چې وکړای شي د ټاکنو پر ورځ د رايه ورکونکو شمير معلوم کړي. ولسمشريزو ټاکنو ته په کمه زماني موده کې د احصايې مرکزي اداره نه شي کولای چې د رايه ورکونکو لېست په ښه توگه کره او معلوم کړي، له بل اړخه د احصايې مرکزي اداره نه شي کولای چې د رايه ورکونکو په لېست کې تقلب او غلطۍ په لنډ مهال کې ثابتې کړي.

د ناستې برخوالو له ټاکنو سره هممهاله د سولې پروسه او په نوموړې پروسه کې د امريکا او طالبانو ژوره ښکېلتيا او همدارنگه د سولې روان حالات هم سره وتړل. اکثرو گډونوالو وويل چې د سولې اړوند خبرې د ټاکنو پروسه ځنډنۍ کولای شي. د طالبانو او امريکا له پټو خبرو داسې څرگنديږي چې د ټاکنو تر مخه ممکن امريکا او طالبان په افغانستان کې د يو نوي حکومتي سيسټم په جوړولو هوکړه وکړي او ټاکنې له يو نامالوم برخليک سره مخ کړي.

د ناستې د بحث يوه بله مهمه خبره د ټاکنو کمېسيون د کميشنرانو د معافيت او له جزايي مسووليت څخه د تيښتې مسئله ياده شوه. د ټاکنيزو کمېسيونونو کميشنران د تيرو ټاکنو په تړاو گرم او مسوول وپيژندل شول، خو له بده مرغه يو تن هم د محکمې ميز ته راکش نه شو کړای، څو د ټاکنو نورو مسوولينو ته د پند او عبرت سبب شي. د ټاکنيزو کمېسيونونو کميشنرانو او نورو مسوولينو له محاکمې څخه تيښته هغه څه دي چې د ټاکنو په برخه کې د فساد زمينه جوړوي.

# ټاکنیز کمپاین پیل شو؛

## خو څارونکي بنسټونه بیا د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو د بحراني کېدو اندېښنه لري




نن په هېواد کې د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو ټاکنیز کمپاین په رسمي توگه پیل شو. د ولسمشریزو ټاکنو لپاره شته نوماندان به کمپاینونه کوي او دا به تر دوو میاشتو پورې روان وي. بل پلو پر ټاکنو څارونکي بنسټونه بیا له دې اندېښنه لري چې ښایي راتلونکې ټاکنې له بحران سره مخ شي. دوی وایي چې که حکومت د ټاکنو لپاره سیاسي اراده ونه لري او په ټاکنو کې مداخله وکړي، نو ښایي ټاکنې له بحران سره مخ شي او په هېواد کې د یوه نوي ناورین سبب شي.

د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره د ټاکنیزو کمپاینونو تر پیل یوه ورځ مخکې پر ټاکنو څارونکي بنسټونه په ټاکنو کې د حکومت مداخلو په تړاو خبرداری ورکوي.

د افغانستان د ازاد څار بنسټ او د ټاکنو روڼتیا څار موسسې په یو گډ مطبوعاتي کنفرانس کې ویلي، که د ولسمشریزو ټاکنو لپاره سیاسي اراده موجوده نه وي، حکومت پکې مداخله وکړي او د کمېسیون پلانونه په سمه توگه تطبیق نه شي، ټاکنې به د بحران پر لور ولاړې شي. د افغانستان د ازاد څار بنسټ رییس مبین الله ایماق وایي: ((که سیاسي اراده موجوده نه وي. د بودجې د تامین په برخه کې کاغذپراني موجوده وي، حکومت په ټاکنو کې مداخله وکړي، ټاکنیز کمېسیونونه خپل پلانونه عملي نه شي کړی، نو دا د همغږۍ کمزورتیا به ټاکنې له بحران سره مخ کړي)).

ایماق دا هم وویل چې له ستونزو سره سره، دوی او خلک دې ته هیله من دي چې ټاکنې به په خپل وخت تر سره شي، خو د ټاکنیزو کمېسیونونو سم او پر ځای اقدامات او پاملرنې به د دې سبب شي چې په هېواد کې شفافې او له ستونزو پاکې ټاکنې تر سره شي.

پر انتخاباتو دغه څارونکي بنسټونه وايي چې د ټاکنو کمېسیون له خلکو سره د تقویتي نوملیکنې ارقام په مفصله توگه نه دي شریک کړي او اندېښنه ښیي که دا ارقام شریک نه شي، ټاکنې به له بن بست سره مخ شي. دوی له کمېسیون څخه په جدي توگه غواړي، چې د تقویتي نوملیکنې بشپړ او مفصل ارقام وړاندې کړي. د ټاکنو د روڼتیا څار موسسې غړی حبیب الله شینواری وایي: ((کله چې تقویتي نوملیکنه وشوه، نو کمېسیون دې لطفاً ارقام په دقیقه توگه شریک کړي. تاسې که د ټاکنو کمېسیون وېبپاڼې ته مراجعه وکړئ، نو دغه ارقام د ولایاتو او مراکزو په تفکیک باندې نه دي نشر شوي. دا پخپله شفافیت تر پوښتنې لاندې راولي)).

دغه بنسټونه وایي، دوی اندېښمن دي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون امار او ارقام په سمه توگه نه شریکوي. د دوی په خبره، که دغه ارقام په سمه توگه له خلکو سره شریک نه شي، نو راتلونکې ټاکنې به تر پخوانیو هغو هم له ستونزو ډکې وي. ایماق وایي: ((موږ د ارقامو له نه شریکولو اندېښنه لرو. دا پخپله پروسه تر سوال لاندې راولي او راتلونکې ټاکنې به تر تېرو هم له ډېرو ستونزو سره مخ کړي)).

پر ټاکنو څارونکي بنسټونه داسې مهال دغه ډول څرگندونې کوي، چې نن په ټول هېواد کې د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو ټاکنیز کمپاین پیل شو. د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، دوی د ټاکنیز کمپاین لپاره نوماندانو ته ځانگړې تگلاره جوړه کړې ده او دوی مکلف دي چې هغه د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال مراعات کړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون له نوماندانو غواړي چې د ټاکنیز کمپاین پر مهال د افغانستان ټولو قوانینو ته درناوی وکړي، له دولتي امکاناتو کار وا نه خلي، نورو نوماندانو ته درناوی ولري او په هېواد کې روان وضعیت ته په کتو خپل کمپاینونه او غونډې تنظیم کړي.

امنیتي ادارو هم بیا تیاری ښودلی چې په ټاکنیزو کمپاینونو کې د امنیت تامین ته تیار دي او نوماندان کولی شي خپلې غونډې او کنفرانسونه جوړ کړي.

---

## شکایتونو کمېسیون: که نوماندان خپلې پانگې ثبت نه کړي، ښایي له ټاکنو وایستل شي




د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو ته خبرداری ورکړی، چې که چېرې خپلې پانگې ثبت نه کړي او د کمپاینونو په اړه په خپل وخت کمېسیون ته راپور ور نه کړي، پر نغدي جریمې سربېره، ممکن له ټاکنو وایستل شي.

د دغه کمېسیون منشي او ویاند قاسم الیاسي په کابل کې یوې گډې خبري ناستې ته ویلي، کاندیدان باید د خپلې پانگې پر ثبت سربېره، د کمپاین پر مهال د مالي سرچینو د تر لاسه کولو په اړه هم د ټاکنو کمېسیون ته بشپړ او شفاف راپور ورکړي.

هغه ویلي: «د کاندیدانو پانگې باید ثبت وي، میاشت په میاشت باید راپور ورکړي، په کمپاین کې ورته له مخکې ټاکل شویو پیسو د زیات لگښت حق نه لري. له حقیقي شخصیتونو څومره مرستې تر لاسه کولای شي، باید راپور ورکړي، که نه جریمه لري».

دا په داسې حال کې ده چې له ټاکنیز مهالوېش سره سم نن رسماً د جمهوري ریاست د اتلسو نوماندانو ترمنځ ټاکنیزې سیالۍ پیل شوې او ۶۰ ورځې به دوام وکړي. تر هغې وروسته ۴۸ ساعته د سکوت پړاو او بیا به د تلې په شپږمه ټاکنې وشي.

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې د جمهوري ریاست ټولو کاندیدانو خپلې پانگې له دوی سره ثبت کړې دي.

د دغه کمېسیون د ویندوی د دفتر سرپرست ذبیح سادات ازادي راډیو ته ویلي: «د جمهوري ریاست ټولو نوماندانو د انتخاباتو له خپلواک کمېسیون سره خپلې پانگې ثبت کړې، په دې برخه کې مقرره شته، ټولو نوماندانو کمېسیون ته کره او پر وخت معلومات ورکړي».

په ورته وخت کې پر ټاکنو د څار بنسټونه پر ټاکنیزو کمېسیونونو سربېره، له مدني بنسټونو، رسنیو، حکومتي اړوندو ادارو او نړیوالو مرسته کوونکو او د څار له بنسټونو غواړي چې د جمهوري ریاست د ټاکنو د ښه او شفافه تر سره کېدو او بریالیتوب لپاره په گډه لاس پکار شي.

---

## صدیقي: د ولسمشر غني د فرمان له مخې د سولې عالي شورا د دارالانشا تشکیلات لغوه شول



د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي پرون په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې ولسمشر محمد اشرف غني د یوه فرمان په ترڅ کې د سولې عالي شورا د دارالانشا تشکیلات لغوه کړل.

صدیقي دغه راز وویل چې د سولې عالي شورا ټولې چارې به له دې وروسته د سولې په چارو کې د دولت وزارت لخوا پرمخ وړل کېږي.

هغه زیاته کړه: «د سولې په چارو کې د دولت وزارت د سولې د مشورتي جرگې د استازو په غوښتنه رامنځته شو او جمهور رییس د سولې په برخه کې د اړتیا له مخې دا اقدام وکړ، نن(پرون) جمهور رییس صاحب د سولې د عالي شورا د لغوه کېدو فرمان هم صادر کړ، د سولې عالي شورا لغوه شوې ده، د دې شورا ټولې چارې د سولې وزارت پورې مربوط کېږي».

صدیقي له خبري کنفرانس وروسته امریکا غږ ته ویلي، چې یوازې د سولې عالي شورا د دارالانشا تشکیلات لغوه شوي دي.

د سولې عالي شورا د عامه اړیکو رییس سید احسان طاهري هم رسنیو ته په یوه لیږلي بیان کې ویلي، چې د سولې عالي شورا لغوه شوې نه ده، بلکې یوازې د دغې شورا د دارالانشا تشکیلات لغوه شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د سولې عالي شورا په نوم تشکیلات د پخواني ولسمشر حامد کرزي د کار په موده کې له وسله والو طالبانو سره د سولې د خبرو د پرمخ وړلو لپاره رامنځته شول او برهان الدین رباني د دې شورا د لومړي رییس په توگه وټاکل شو چې په ۲۰۱۱ ز کال کې په یوه ځانمرگي برید کې د نوموړي له وژل کېدو وروسته، د هغه مشر زوی صلاح الدین رباني د دغې شورا د مشر په توگه وټاکل شو.

ولسمشر غني لومړی د پخوانیو مجاهدینو یو مشر پیر سید احمد گیلاني د دې شورا د رییس په توگه وټاکه، چې د هغه تر مړینې وروسته محمد کریم خلیلي تر دې دمه د یادې شورا مشرۍ په غاړه لرله.

---

## ټرمپ: د شمالي کوریا وروستۍ توغندیزې ازموینې د اندېښنې وړ نه دي



د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، د شمالي کوریا وروستۍ توغندیزې ازموینې د اندېښنې وړ نه دي.

نوموړي په سپینه ماڼۍ کې د خبریالانو د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي: «موږ ډېر ښه کار کړی دی. وبه وینو چې څه کېږي، دوی اوسمهال اټومي ازموینه نه ده کړې، بلکې یوازې یې یوه کوچنۍ اټومي ازموینه کړې ده، زه فکر کوم موږ له شمالي کوریا سره ښه کار کړی دی».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د جنوبي کوریا رسنیو راپور ورکړ چې د شمالي کوریا د تېرې پنجشنبې په ورځ د بالسټیک توغندیو دوه ازموینې کړې دي.

د شمالي کوریا دغه ازموینې داسې مهال دي چې تر دې وړاندې دغه هېواد په اگست میاشت کې د جنوبي کوریا او امریکا د گډو پوځي تمرینونو له کبله خبرداری ورکړی و.

د شمالي کوریا مشر کیم جونگ اون تر دې وړاندې خبرداری ورکړی و، که امریکا او جنوبي کوریا خپل گډ پوځي تمرینونه لغوه نه کړي، دوی به یو ځل بیا پر خپل اټومي پروگرام له سره غور وکړي.

د یادونې ده چې ولسمشر ټرمپ د شمالي کوریا له مشر کېم جونگ سره د دغه هېواد د اټومي پروگرام پر سر درې ځله مخامخ ناستې کړې دي، خو دواړه لوري تر اوسه پر دې نه دي بریالي شوي چې د روان کړکېچ پر سر یوې هوکړې ته ورسېږي.

خو ټرمپ بیا د دواړو هېوادونو د مشرانو له دریېمې ناستې وروسته چې د بندو دروازو ترشا تر سره شوه، خوښي څرگنده کړې چې یوې هوکړې ته نږدې شوي دي.

بلخوا د جنوبي کوریا ولسمشر د امریکا او شمالي کوریا د مشرانو ترمنځ وروستۍ کتنه چې د دواړو کوریاگانو ترمنځ په پوله کې وشوه، د دواړو هېوادونو ترمنځ د دښمنیو پای بللې ده.

د دغه هېواد ولسمشر مون جه اېن دغه څرگندونې د خپلې کابینې غونډې ته کړې او ویلي یې دي چې د ټرمپ او کېم کتنه دا مانا لري چې دواړو هېوادونو د دښمنۍ اړیکو د پای ته رسولو او د سولې د یوه نوي پړاو د پیلولو اعلان وکړ.

ټرمپ او کېم په دې کتنه کې هوکړه وکړه چې د اټومي لانجې پر سر خبرې بېرته پیلوي، خو یوې خوا دا نه دي ویلي چې په څه ډول به د کوریا ټاپووزمه له اټومي وسلو پاکوي.

## د کتاب خبرې


# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

- لیکوال: ابوبکر صدیق
- ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

**له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره**




دراني بیا هېڅ کله پر دې درې چې پخوا یې ژمنې پلازمېنه وه واکمن نه شول. کېدای شي د پېښو د بیا نیولو پروګرام د دوست محمدخان د هغې ستراتیژۍ یوه برخه وه چې نه یې غوښتل له دې لارې انګرېزان ولمسوي. سیکانو بیا په ۱۸۳۷ ز کال د جمرود په جګړه کې ماته وخوړه.

د پولې جهاد

د سیکانو د راپورته کېدو له پیله او د انګرېزانو د یوې بشپړې پېړۍ د واکمنۍ پر مهال د هغوی پر وړاندې جنګېدونکو پښتنو ډېره هڅه د سرحدي سیمو پر خوندي کولو وه. هغه مهال جګړه یوه ځایي مسئله وه چې یوه قوم به پر مخ وړه، خو د نورو جګړو په ترڅ کې قومونو په همغږۍ سره له سرحد لیرې جګړې کولې چې ځینې وختونه به یې لمن د اروپایي مستعمرې لیکو ته هم ورسېده. ځینې وختونه به غیر پښتنو کاریزماتیکو قومي مشرانو او علماوو ته د جګړې مشري ور تر غاړې کېده. انګرېزانو او سیکانو به په ګډه خپل ځواکمن پوځونه د جګړې ډګر ته ښکته کول، ځکه به نو د پښتنو بریاوې کمې وې. مالي رشوتونه، ډیپلوماسي او اقتصادي پرمختیایي چارې هم د هغوی د نفوس او قدرت د دوام په موخه د وسایلو په توګه کارېدې.

د پښتنو په سیمو کې لومړنۍ ایډیولوژیکه جګړه‌ییزه مبارزه د (طریقه محمدیه) په نوم پیل شوه چې په اصل کې وهابي حرکت ورته وایي، د دې جګړې مشري د سید احمد په نوم یو کس کوله چې په اصل کې د شمال ختیځ هند د رای بریلي سیمې اوسېدونکی و. د دې جګړې او مبارزې پلویانو ته هندي مجاهدین ویل کېدل، هغوی له شاه ولي الله څخه الهام اخیستی و او تر ډېره د پېښور له سیکانو سره پر جګړه بوخت وو.

دې حرکت هغه مهال ماته وخوړه چې پر پښتنو یې د خپلو غوښتنو منلو هوډ وکړ. د هغوی له ټولنیزو او رسمي مخالفتونو سره مخ شول ځکه پښتنو هېڅکله له بهر څخه تحمیلي چارې نه منلې. یاد حرکت په بشپړه توګه د قران او احادیثو پیروي غوښته. هغوی پر لمونځ کولو او روژې نیولو هم ډېر ټینګار کاوه. هڅه یې دا وه چې واک له قومي خانانو دیني ملایانو ته ولېږدول شي، خو دوی له سخت غبرګون سره مخ شول. پښتنو دا هندي افراطیان له پېښور درې څخه په زور و ایستل.

په ۱۸۳۱ ز کال سید احمد او د هغه پلویان له سیکانو سره په بالاکوټ کې ووژل شول، دا یوه غرنۍ سیمه ده چې له پېښور څخه ۲۰۰ کیلومتره شمال ته پرته ده. په ۱۸۵۷ ز کال هندیانو د خپلواکۍ جګړه وکړه. پر همدې مهال افغانان د دوست محمدخان پر مشرۍ بې طرفه پاتې شول. انګرېزانو د یوه تاکتیک په توګه د پښتنو له منځه ۳۵۰۰۰ سرتېري د هندیانو د مقابلې لپاره چمتو کړل. له دې لارې د پردې تر شا هدف دا و چې پښتانه راتلونکې کې له یوه بل ګواښ سره مخ کړي. دې کسانو هند کې سخته جګړه وکړه چې په پایله کې یې مسلمانان او هندیان سخت را وپارول.

دا مهال د سوات له یوسفزو څخه یوه مهمه مذهبي څېره را څرګنده شوه. دا کس اخوند عبدالغفور نومېده، هغه ته «سیدو بابا» هم ویل کېدل. سیدو بابا د هند د وهابیانو پلوی و چې د وخت په تېرېدو یې د خپل رسوخ او واک مزي په سوات او شاوخوا سیمو کې ټینګ کړل. هغوی په ۱۸۶۳ ز کال له انګرېزانو سره چې غوښتل یې سوات ونیسي سخته جګړه وکړه. د امبیلا تنګي په یوه خونړۍ جګړه کې هم څه باندې ۹۰۰ برېټانوي سرتېري ووژل شول. اخند ځايي سیاست په مهارت سره اداره کاوه، هغه د دې مخالف و چې د اسلام ټول احکام دې ټکي په ټکي عملي شي. نوموړي په «سوات» کې د «سیاست» «بنسټ» کېښود چې وروسته یې لمسی د یوه دولت په جوړولو وتوانېد. دا دولت په ۱۹۲۶ ز کال د انګرېزانو له لوري د سوات د دولت په نوم په رسمیت وپېژندل شو چې نیمه پېړۍ وروسته په «پاکستان» کې «مدغم» شو.

د پښتنو تر ټولو ځواکمن «پاځون» په ۱۸۹۷ ز کال و، دا مهال په شمال کې له سوات څخه او په جنوب کې تر وزیرستان پورې سرحدي قومونه په غیرمنظم ډول را پورته شول. دې پاځون ته برېټانوي تاریخ پوهان «لوی قومي پاځون» وایي. دا د پښتنو تر ټولو لومړۍ او لوی جګړه‌ییز اقدام و چې تر شا یې د هندوستاني وهابیانو لاس نه و. د ملکنډ سعدالله چې برېټانوي تاریخ پوهانو ورته لېونی ملا ویل او ملا نجم الدین د دې پاځون له کلیدي مشرانو څخه و. برېټانوي ځواکونو دا پاځون د ۷۰۰۰۰ سرتېرو په ځواک سره مات کړ. هغوی د پاځون کوونکو په منځ کې مخالفو قومي ملېشو ته مرستې ورکړې، ځکه یې د هغوی په منځ کې «درځ» رااووست او پر شا یې کړل. د برېټانوي تاریخ پوهانو پر حواله د دې پاځونونو په ترځ کې بیا په ۱۸۹۳ ز کال ډیورنډ«فرضي» کرښه وویستل شوه.

وزیرستان تر هغه مهاله چې په ۱۹۴۷ ز کال انګرېزانو دا سیمه پرېښوده، نظامي ګواښ و. د وزیرستان لویو قومونو وزیر او محسودو د محی الدین ملاپاینده او حاجي میرزا علي تر مشرۍ لاندې جګړه کوله. په ۱۹۱۹ ز کال د وزیرستان په اهنی تنګي کې یو بشپړ نظامي غونډ چې شمېر یې دوه زره (۲۰۰۰) تنو ته رسېده زخمي او ووژل شو، په دې ډلې کې درې څلوېښت برېټانوي نظامي افسران وو. په محسودو کې تلفات دوه برابره وو، خو یاده جګړه د هغوی په بریا سره پای ته ورسېده. د دوهمې نړیوالې جګړې پر مهال انګرېزانو وزیرستان کې ۵۰۰۰۰ سرتېري پر دنده ګمارلي وو چې شمېر یې تر ټولو هغو سرتېرو ډېر و چې د هند په پاتې نیمه وچه کې پر دنده ګمارل شوي وو.

**دوام لري...**

# پامیر د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي

پامیر د لوړو زده کړو خصوصي موسسې په ۱۳۹۰ لمریز کال کې په خوست ولایت کې د دریو پوهنځیو (اقتصاد، کمپیوټر ساینس او انګلیسي ادبیاتو) په درلودلو سره پر فعالیت پیل وکړ. تر دوو کلونو فعالیت وروسته یې له لوړو زده کړو وزارت څخه د څلورم پوهنځي (حقوقو او سیاسي علومو) منظوري هم واخیسته او په دې پوهنځي کې یې هم محصلین جذب کړل. د پامیر د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال استاد نظیف الله نفیس وایي، پامیر د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال ټول څلور پوهنځي لري او په جنوب ختیځ زون کې یوازینۍ د لوړو زده کړو موسسه ده چې په یاده کچه پوهنځي لري.

ښاغلی نظیف الله وایي، تر اوسه پورې یې هر پوهنځی یوازې یو یو ډیپارټمنټ لري، چې په حقوقو پوهنځي کې (اداره او ډیپلوماسي)، په اقتصاد پوهنځي کې (اداره او تجارت)، په ژبو او ادبیاتو کې پوهنځي کې (انګلیسي ډیپارټمنټ) او په کمپیوټر ساینس کې بیا عمومي زده کړې کېږي.

د دې موسسې علمي مرستیال وایي، اوسمهال په خپلو فعالو څلورو پوهنځیو کې د ۸۰۰ په شاوخوا کې محصلین لري، چې له ډلې یې ۳۰ ښځینه محصلینې دي. ښاغلی نظیف الله وایي، دا چې په خوست کې د ځینو کلتوري دودونو له مخې ډېرې ښځینه وو ته اجازه نه ورکول کېږي چې لوړې زده کړې وکړي، نو له دې کبله یې په محصلینو کې د ښځینه وو شمېر کم دی، خو نوموړی وایي، هڅه کوي څو کورنیو ته ډاډ ورکړي چې دغه ځایونه یې د اولادونو لپاره له هره اړخه خوندي دي، چې دغه څه به ورځ تر بلې د ښځینه محصلینو د زیاتوالي لامل شي.

پامیر د لوړو زده کړو موسسې تر اوسه پورې پنځه دورې فارغان چې شمېر یې زرو ته رسېږي، د لیسانس په کچه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. د ښاغلي نظیف الله په خبره، ډېری فارغ شوي محصلین یې خپله په خوست ولایت کې په ښوونځیو، دولتي او غیر دولتي ادارو او یا هم د هېواد په نورو ولایتونو کې پر دندو بوخت دي. دی وایي، ښه کیفیت یې د موسسې شعار دی، نو هڅه کوي چې پر کار پوه، مسلکي او د کار مارکېټ ته په کتو وړ کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.

په پامیر د لوړو زده کړو موسسه کې د ورځې په دوو وختونو کې تدریس کېږي او محصلین د زده کړو لپاره ورځي. د دې موسسې علمي مرستیال استاد نظیف الله وایي، دوی هڅه کوي څو د هغو کسانو لپاره هم د زده کړو زمینه برابره کړي، چې د ورځې په اوږدو کې پر نورو کارونو بوخت وي. دی وایي، همدې ټکي ته په کتو یې د خپلو محصلینو لپاره داسې درسي وختونه برابر کړي، چې وکولی شي هم خپل ورځني کارونه مخ ته یوسي او هم لوړې زده کړې وکړي. دی وایي، د سهار له اتو تر لس نیمو بجو او د ماسپښین له درې نیمو د ماښام تر شپږو بجو پورې محصلین پامیر د لوړو زده کړو موسسې ته د زده کړو لپاره ورځي.

استاد نظیف الله وایي، په موسسه کې یې د تدریس چارې د دوه ډوله استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې یو دایمي او بل هم قراردادي دي. دی وایي، دا چې شیخ زاید پوهنتون په خوست کې یو مخکښ پوهنتون دی او دوی وخت ناوخت ور سره خپلې ستونزې شریکوي او له تجربو یې ګټه اخلي، نو د دغه پوهنتون ډېری استادان په تشو ساعتونو او یا هم غیر رسمي وخت کې د دوی په موسسه کې د تدریس چارې مخ ته وړي. تر څنګ یې دوی دایمي استادان هم لري، چې د ټولو استادانو شمېر یې څلوېښتو ته رسېږي. دی وایي، تر اوسه پورې کومه ښځینه استاده نه لري، خو په پام کې لري چې که په راتلونکې کې په شرایطو برابره ښځینه استاده پیدا شي، دوی به یې پر دنده وګوماري.

د دې موسسې اداره وایي، تر اوسه پورې له کوم بهرني پوهنتون سره علمي اړیکې یا هوکړې نه لري، خو هڅه یې دا ده چې په نږدې راتلونکې کې له ځینو بهرنیو پوهنتونونو سره هوکړې لاسلیک کړي، له تجربو یې ګټه واخلي او د اړتیا په صورت کې خپل استادان او محصلین د ورتیاوو لوړولو او تجربو تر لاسه کولو لپاره هلته ور واستوي.

د پامیر د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال وایي، په خوست کې له شیخ زاید پوهنتون او په کابل له باختر خصوصي پوهنتون سره علمي اړیکې لري، محصلین د تجربو تر لاسه کولو او په سمینارونو کې د ګډون کولو لپاره ور استوي. دی وایي، د باختر پوهنتون ځینې استادان په میاشتني ډول د دوی له پوهنتون څخه لیدنه کوي او خپلې تجربې هم ور سره شریکوي.

پامیر د لوړو زده کړو موسسه د خپلو استادانو او محصلینو لپاره مجهز کتابتون لري، چې د فعالو پوهنځیو اړوند لږ تر لږه شپږ زره ټوکه علمي او تخصصي کتابونه پکې موجود دي. استاد نظیف الله وایي، محصلین یې کولی شي له خپل مهالوېش سره سم، له دې کتابتون څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه واخلي.

د کتابتون تر څنګ، پامیر د لوړو زده کړو موسسه د کمپیوټر ساینس پوهنځي د محصلینو لپاره مجهز کمپیوټرلب او د انټرنېټ اسانتیاوې لري. استاد نظیف الله وایي، په خوست کې د سوداګرۍ خونه چې مشري یې ښاغلی نواب امیرزی کوي او په اقتصادي برخه کې پراخ معلومات او مطالعه لري، وخت ناوخت یې محصلینو ته په دې برخه کې معلومات او سمینارونه ورکوي. د نظیف الله په خبره، د حقوقو پوهنځي له محصلینو سره یې د خوست قضایي اداري مرسته کوي او د محکمو دایرولو پر مهال د دوی محصلین د عملي زده کړو لپاره په اړوندو غونډو کې ګډون کوي. دی وایي، هڅه کوي چې د بېلابېلو سمینارونو او ورکشاپونو په دایرولو سره یې د محصلینو وړتیاوې او تجربې لوړې کړي.

د پامیر د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال وایي، د بېلابېلو کټګوریو لپاره بېلابېل تخفیفونه لري، له شل سلنې نیولې، دېرش، څلوېښت، پنځوس او ان داسې محصلین هم لري چې په وړیا ډول د دوی په موسسه کې زده کړې کوي. دی وایي، پوهنتون یې په خوست کې د غریبانو پوهنتون په نوم مشهور شوی دی او تر اوسه پورې یې هېڅوک ناهیلي نه دي استولي. دی وایي، د محصلینو اقتصادي وضعیت ته په کتو د هرې برخې لپاره ځانګړي تخفیفونه په پام کې لري.

استاد نظیف الله وایي، ډېری خصوصي پوهنتونونه هغه ډول چې لازمه ده او لوړو زده کړو وزارت ورته قوانین او لایحې ټاکلې دي، عمل یې نه دی پرې کړ چې دغه څه اوس د خصوصي پوهنتونونو لپاره ستونزې جوړې کړې دي او ارزښت یې یو څه راټیټ شوی دی. نظیف الله مني چې ځینې خصوصي پوهنتونونه له زده کړو پرته د پیسو په بدل کې خلکو ته د تحصیلي اسنادو د ورکړې ژمنې ورکوي، خو پامیر د لوړو زده کړو موسسې هڅه کړې ده چې خپل ارزښت وساتي او ټول هغه قوانین عملي کړي، چې د لوړو زده کړو وزارت ورته ټاکلي دي.

استاد نظیف الله وایي، تر اوسه پورې یې چې څومره کسان فارغ کړي، د لوړو زده کړو وزارت لخوا یې ورته تایید شوي داسې اسنادونه ورکړي، چې د دندې په پیدا کېدو کې ور سره مرسته وکړي او په نږدې راتلونکې کې به ورته د ډیپلومونو د وېش لړۍ هم پیل کړي.

د پامیر د لوړو زده کړو موسسې اداره وایي، لومړنۍ هڅه به یې دا وي چې بنسټ ته یې له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع ورکړي. د دې موسسې علمي مرستیال وایي، لوړو زده کړو وزارت ته یې د دریو نورو پوهنځیو ( ژورنالېزم، انجنیري او شرعیاتو) غوښتنلیکونه هم سپارلي دي. دی وایي، ولسمشر په خصوصي پوهنتونونو کې د نویو پوهنځیو جوړولو بهیر ځنډولی دی، چې په بیا پیلېدو سره به دوی په دې برخه کې خپل کارونه ګړندي کړي. د نوموړي په خبره، په خوست کې ډېری هغه ځوانان چې تر لیسانس کچې پورې یې لوړې زده کړې کړې دي، غوښتنه یې دا ده چې خپله په خوست ولایت کې ورته د ماسټرۍ زمینه برابره شي. دی وایي، ټول هغه معیارونه یې پوره کړي چې لومړی پوهنتون ته ارتقاع وکړي او ورپسې په ځینو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرامونه هم پیل کړي.

د پامیر د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال وایي، تر اوسه پورې له کومې جدي ستونزې سره نه دي مخ، خو له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې باید له خصوصي پوهنتونو او موسسو سره مرسته وکړي، څو له دې امتحاني دورې او لومړنۍ تجربې څخه په پوره بریالیتوب ووځي. دی وایي، لوړو زده کړو وزارت باید د خصوصي او دولتي پوهنتونونو او موسسو تر منځ توپیري چلند له منځه یوسي او دواړو ته په یوه سترګه وګوري. له دې سره په څنګ کې، د دې موسسې اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، څو هغه استادان چې له دوی سره پر تدریس بوخت دي، باید د دولتي پوهنتونونو د استادانو په څېر د علمي رتبو په بهیر کې شامل شي او علمي رتبې تر لاسه کړي.

روغتیا

# تأثیر دیابت بر درمان زخم؛ چیزهایی که باید بدانید

ترجمه: احمد فردوسی

دیابت یکی از بیماری‌های شایع در دنیا است و کمتر کسی است که تا به حال اسم این بیماری را نشنیده باشد یا با عوامل ایجاد دیابت یا مشکلات ناشی از آن حتی اندک، آشنایی نداشته باشد. مدت زمان لازم برای بهبودی زخم در افراد دیابتی کمی بیشتر از حد معمول است. به همین دلیل خطر ابتلا به عفونت و سایر بیماری‌های پیش رونده در این افراد بیشتر است. در این مقاله به بررسی تأثیر دیابت بر درمان زخم و روش‌های کاهش عوارض آن می‌پردازیم.

**دیابت و بهبود زخم**

سرعت بهبودی زخم در افرادیکه به‌خوبی دیابت خود را مدیریت می کنند، بیشتر از کسانی است که چندان کنترلی بر بیماری خود ندارند. در نتیجه احتمال ابتلا به انواع عفونت‌های پیش رونده در آن‌ها کاهش می‌یابد.

زخم‌ها، بریدگی‌ها و سوختگی‌های جزئی بخش‌های تأسف‌بار اما گریزناپذیر زندگی هستند. بااین‌حال، این آسیب‌های کوچک در افراد دیابتی می‌تواند مسائل جدی برای سلامتی آنها ایجاد کند.

در بسیاری از افراد مبتلا به دیابت زخم‌ها به‌آرامی ترمیم می‌شوند، حتی ممکن است این ترمیم به‌خوبی اتفاق نیفتد یا زخم به طور کامل ترمیم نشود. در بعضی‌مواقع این احتمال وجود دارد که نوعی عفونت در محل زخم ایجاد شود.

این عفونت می‌تواند به سرعت به بافت یا استخوان نزدیک زخم یا حتی مناطقی دورتر از محل زخم منتشر شود. در بعضی موارد و در نبود مراقبت‌های اورژانسی، عفونت می‌تواند زندگی فرد را تهدید کند و حتی منجر به مرگ او شود.

حتی اگر عفونتی در محل زخم ایجاد نشود، بهبود آهستهٔ زخم می‌تواند بر سلامت کلی و کیفیت زندگی فرد اثر منفی داشته باشد.

بریدگی‌ها یا جراحت در پا می‌تواند راه رفتن را سخت کند یا ورزش کردن را دردناک کند.

لازم است افراد مبتلا به دیابت میزان گلوکوز یا قند خون خود را پایین‌تر از حد قند خون نورمال نگه دارند تا خطر بهبودی آهستهٔ زخم یا عوارضی مانند زخم پای دیابتی را کاهش دهند.

بعضی از گزارش‌ها نشان می‌دهد که از هر ۴ فرد مبتلا به دیابت ۱ نفر دچار زخم پای دیابتی است. زخم پای دیابتی نوعی زخم دردناک است که متأسفانه می‌تواند به قطع پا منجر شود.

بر اساس مقاله‌ای که در یکی از مجلات آمریکایی به چاپ رسیده، روزانه در حدود ۲۳۰ قطع عضو ناشی از دیابت در ایالات متحده انجام می‌شود.

**علت ایجاد دیابت**

مطالعه‌ای در سال ۲۰۱۳ میلادی انجام شد و با توجه به آن ارتباط مستقیمی بین قند خون و بهبودی زخم وجود دارد. تحقیقات نشان می‌دهد که اگر افرادی که به خاطر زخم‌های دیابتی مزمن خود تحت عمل جراحی قرار می‌گیرند، میزان قند خون خود را در زمان جراحی به خوبی کنترل کنند با احتمال بیشتری بهبودی کامل را به دست می‌آورند.

دیابت به دلیل نقص بدن در تولید انسولین یا حساسیت به انسولین ایجاد می‌شود. انسولین هورمونی است که به سلول‌های بدن اجازه می‌دهد تا گلوکوز (قند خون) را از جریان خون دریافت کنند و از آن به عنوان انرژی استفاده کنند. در صورتی که در این مسیر یا در تولید و استفاده از انسولین نقصی ایجاد شود، بدن نمی‌تواند میزان گلوکوز خون را مدیریت کند.

اگر میزان گلوکوز خون به‌طور دائم بالا باشد به عملکرد گلبول‌های سفید خون آسیب می‌رساند. گلبول‌های سفید خون نقش اصلی را در سیستم ایمنی بدن دارند. اگر این سلول‌ها عملکرد مناسب خود را نداشته باشند، بدن نمی‌تواند با باکتری‌ها مقابله کند و زخم‌ها را از بین ببرد.

افرادی که دیابت آنها کنترل‌شده نیست، گردش خون ضعیفی دارند. اگر گردش خون ضعیف باشد، خون به‌آرامی درون رگ‌ها حرکت می کند. به‌همین‌دلیل بدن به‌سختی می‌تواند مواد لازم را به محل زخم برساند. درنتیجه جراحت‌ها به‌آهستگی ترمیم می‌شوند یا به طور کامل ترمیم نمی‌شوند.

همچنین دیابت ممکن است در نتیجه نوروپاتی یا آسیب عصبی ایجاد شود که می‌تواند در بهبودی زخم تأثیر داشته باشد. قند خون کنترل‌نشده به عصب آسیب می‌زند و سبب بی‌حسی در آن منطقه می‌شود. این موضوع احتمالاً به این معنی است که فرد دیابتی نمی‌تواند آسیبی که به پاهایش وارد می‌شود، را احساس کند و در نتیجه متوجه آسیب نمی‌شود.

از آنجا که فرد متوجه آسیب نمی‌شود، به‌دنبال درمان آن هم نمی‌رود و در نتیجه زخم بدتر می‌شود. کاهش سرعت بهبود زخم و درکنار آن کاهش حس در منطقهٔ ایجاد زخم، خطر ابتلا به عفونت را تا حد زیادی افزایش می‌دهد.

خطر ابتلا به عفونت باکتریایی زخم در افراد مبتلا به دیابت نوع ۱ و دیابت نوع ۲ بیشتر است.

عوامل زیر می‌تواند خطر ابتلا به عفونت باکتریایی زخم را افزایش دهد:

تعرق ضعیف؛
پوست خشک و ترک‌خورده؛
عفونت ناخن انگشت پا؛
و ناهنجاری پا مانند بیماری شارکو.

سایر عوامل مربوط به دیابت که در بهبودی زخم مؤثر است در ادامه آورده شده است:

کاهش تولید هورمون‌های رشد و ترمیم؛
کاهش تولید و ترمیم رگ‌های خونی جدید؛
سد پوستی ضعیف؛
و کاهش تولید کلاژن.

**عوارض جانبی زخم های دیابتی**

افرادی که بهبودی زخم‌هایشان به‌دلیل تأثیر دیابت بر اعصاب و رگ‌های خونی به طور ضعیفی انجام می‌شود، احتمالاً عوارض جانبی دیگر مانند بیماری های قلبی، بیماری های کلیوی و مشکلات چشمی را تجربه می‌کنند.

اگر یک زخم درمان‌نشده عفونی شود، این عفونت می‌تواند به صورت محلی به عضلات و استخوان منتشر شود که در علم طبی به آن استئومیلیت (osteomyelitis) می‌گویند.

در صورتی‌که عفونت در زخم گسترش پیدا کند و درمان نشود، می‌تواند به مرحلهٔ قانقاریا (gangrene) برسد. قانقاریا یکی از عوامل شایع قطع عضو در افراد مبتلا به دیابت است و به طور معمول به نبود خون درون بافت آسیب‌دیده و احتمالاً عفونت اشاره دارد. برای درمان، لازم است که بافت قانقاریا با جراحی برداشته شود. بااین‌حال، اگر داکتر در مراحل اولیه وضعیت را تشخیص دهد و خطر کمی برای بافت وجود داشته باشد، ممکن است که قطع کامل عضو لازم نباشد.

بعضی اوقات افراد به عفونت درمان‌نشده یا گندیدگی با اسم علمی سپسیس (sepsis) مبتلا می‌شوند. در این وضعیت عفونت به داخل گردش خون منتشر می‌شود. گندیدگی می‌تواند زندگی فرد را تهدید کند.

تشخیص و درمان به موقع در این موارد بسیار مهم است.

**پیشگیری از عفونت زخم‌های دیابتی**

افراد مبتلا به دیابت می‌توانند با استفاده از روش‌هایی مانند کنترل قند خون، مراقبت از پا و درمان به موقع زخم به محض ایجاد شدن آن، زمان لازم برای درمان زخم راکاهش دهند.

**مراقبت از پاها در زمان دیابت**

**مراقبت مناسب از پاها شامل موارد زیر است:**

شست‌وشوی روزانهٔ پاها؛
خشک کردن پوست قبل از استفاده از مرطوب کننده؛
پیاده‌روی با کفش و پابرهنه نبودن؛
گرفتن ناخن‌های پا بادقت؛
پوشیدن کفش‌های راحت؛
رسیدگی به پاها و بررسی روزانهٔ داخل بوت ها؛
و داشتن داکتری که در هر بار معاینه پاها را بررسی کند.

**درمان زخم**

لازم است که افراد مبتلا به دیابت به دقت زخم‌های خود را بررسی کنند. اگر زخم‌ها با سرعت کمی ترمیم می‌شوند، نباید به مدت چند هفته به صورت باز باقی بمانند که منتشر، ترشحی یا بی‌نهایت دردناک شوند. بااینکه ممکن است درون زخم عفونتی ایجاد نشود؛ اما لازم است تا در اولین اقدام برای پیشگیری محل زخم به‌خوبی تمیز شود و با استفاده از گاز استریل یا بانداژ به خوبی پانسمان شود و این کار هر روز تکرار شود.

یکی از پیشنهادهای خوب برای افراد دیابتی به خصوص اگر زخم‌شان گسترش پیدا کرده باشد، این است که برای پیاده روی از بوت و جوراب استفاده کنند. پابرهنه بودن خطر ابتلا به عفونت را افزایش می‌دهد.

حتی افرادی که دیابت ندارند؛ اما زخمی در پاهایشان درحال گسترش است و ترمیم نمی‌شود، باید به دنبال درمان باشند. اغلب افراد برای از بین بردن عفونت به آنتی بیوتیک نیاز دارند و اگر زخم بدتر شود، شاید لازم باشد که در شفاخانه بستری شوند.

**کنترول گلوکوز (قند خون)**

افرادی که به‌طور مرتب قند خون خود را کنترول می کنند، کمتر با زخم‌هایی مواجه می‌شوند که قدرت ترمیم شدن ندارند.

افراد مبتلا به دیابت نوع ۱ برای تنظیم قند خون خود به تزریق انسولین نیاز دارند.

افراد مبتلا به دیابت نوع ۲ گزینه‌های بیشتری مثل تزریق انسولین و استفاده از سایر داروها، اصلاح سبک زندگی مثل رژیم غذایی سالم، ورزش منظم و مدیریت وزن را در اختیار دارند که می‌تواند میزان قند خون فرد را بهبود بخشد.

تغییر سبک زندگی به فرد اجازه می‌دهد که حتی بدون استفاده از دارو دیابت خود را مدیریت کند.

افراد مبتلا به دیابت نوع ۱ و ۲ می‌توانند از یک رژیم کنترول‌شده حاوی کاربوهایدریت بهره مند شوند. با داکتر مشورت کنید تا به صورت فردی برای‌تان برنامهٔ غذایی تهیه کند که در آن مقدار خاص کاربوهایدریتی که هر فرد باید به‌صورت روزانه دریافت کند، مشخص شده باشد.

**کلام آخر**

زخم‌های بهبود نیافته در افراد مبتلا به دیابت، می‌تواند به سرعت زندگی آنها را تهدید کند. بهترین روش برای بهبودی هرچه بیشتر زخم‌ها در افراد دیابتی، درمان سریع و مدیریت مؤثر گلوکوز یا قند خون است.

فرد مبتلا به دیابت درصورتی‌که با زخم‌های جدی و دردناک که با گذشت چند روز ترمیم نمی‌شوند یا با عفونت در حال گسترش مواجه شد باید بلافاصله به داکتر مراجعه کند.

درمان با آنتی‌بیوتیک‌های قوی، تمیزکردن زخم، جراحی برای برداشتن بافت‌های مرده و مهم‌تر از همه کنترول مؤثر قند خون، می‌تواند به درمان زخم کمک کند.

اگر زخم به درمان پاسخ نداد مرحله بعدی می‌تواند قطع عضو باشد.

لازم است تا افراد برای کاهش عوارض جانبی، قبل از گسترش زخم اقدامات پیشگیرانه را انجام دهند.

## اداري اصلاحاتو کمېسیون: دولتي مامورین په ټاکنیزو کمپاینونو کې برخه نه شي اخیستی

په داسې حال کې چې نن رسماً د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو ترمنځ ټاکنیز کمپاینونه پیل شول، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون له ټولو دولتي کارکوونکو غوښتي چې د ولسمشریزو ټاکنو تر سره کولو په موخه په رسمي ساعتونو کې او د دولتي امکاناتو په کارونې سره د نوماندانو په ګټه یا زیان کمپاین ونه کړي.

د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د سلوک د ډول مقرري، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون (د دیارلسمې مادې د یو تر ۱۶ اجزاوو)، د ټاکنو قانون (د نهه نویمې مادې) او نورو اړوندو تقنیني سندونو له مخې، د عامه خدمتونو موظفین مکلف دي، څو په خپلو اجراآتو کې د بې پرې والي اصل رعایت کړي او د سیاسي اشخاصو او احزابو په ګټه د اداري د معلوماتو، تجهیزاتو او وسایلو له کارونې ډډه وکړي.

د یادې اداري لخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې نړیوال سټندرډونه هم د ټاکنیزو موخو لپاره د عامه امکاناتو پر نه کارونې ټینګار کوي.

سرچیني زیاته کړې، د یوه نوماند په ګټه پر رایې ورکوونکو باندې فشار راوړل، د دولتي امکاناتو او وسایلو کارول، د نوماندانو په ګټه یا زیان څرګندونې، د نوماندانو د کمزورۍ کولو او پیاوړي کولو په موخه د مقام کارول، په ټاکنیزو کمپاینونو کې ګډون او د ټاکنو نور اړوند فعالیتونه په رسمي ساعتونو کې د ټاکنیزو سیالیو پر مهال له منع شوو فعالیتونو دي.

د دغې اداري په خبره، سرغړوونکي به له جدي قانوني چلند سره مخ شي او کېدای شي چې په عامه اداره کې له دندې هم بې برخې شي.

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون رییس احمد نادر نادري ویلي: «د عامې اداري اساسي اصول، د بې پرې والي ساتل او د ټاکنو په چارو کې نه لاسوهنه ده، نو له دې امله د ملکي خدمتونو کارکوونکي د ټاکنو څواکمنتیا د ساتنې په موخه، باید د کوم نوماند په ګټه د عامه اداري له امکاناتو او اسانتیاوو کار وانه خیستل شي».

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۵۰ |
| € | ۸۹ |
| Rp. | ۵۰۳ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۹۸,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړني شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!




flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA

المبارک
توریستي شرکت

0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د زمري شپږمه | د ۲۰۱۹ د جولای ۲۸مه | ٤۱۱مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ٤۱ | ٤۲ | ٤۱ | ۳٤ | ۳٦ |
| ۲۰ | ۲۳ | ۲٤ | ۲۸ | ۲۷ | ۲٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۳ | لمر ختل ۰٤:۵۹ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیگر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۷:۰۰ | ماخوستن ۰۸:۳۸

# نړۍ




## امریکا پاکستان ته د اېف - ۱٦ الوتکو د خوندیتوب لپاره ۱۲۵ میلیون ډالر ورکوي



د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي، دغه هېواد پاکستان ته د اېف- ۱٦ جنگي الوتکو د خوندیتوب لپاره ۱۲۵ میلیونه ډالره منظور کړي دي.

بلخوا د امریکا د دفاع وزارت د امنیتي مرستو ادارې هم په خپل بیان کې ویلي، چې د پاکستان حکومت له امریکا هیله کړې وه چې په دې برخه کې تخنیکي مرسته ور سره جاري وساتي.

په بیان کې راغلي چې دغه مرسته د امریکا ملي امنیت او بهرنۍ پالیسي پیاوړې کوي، ځکه امریکایي کارکوونکي ۲۴ ساعته د دې ټکنالوژۍ څارنه کوي.

په بیان کې دا هم راغلي چې له دې مرستې سره به په سیمه کې بنسټیز پوځي انډول بدل نه شي.

یادې ادارې په یوه جلا بیان کې ویلي چې هند ته هم د ٦۷۰ میلیون ډالرو په ارزښت د پوځي توکو پلورل منظور شوي دي.

د امریکا دا اقدام دغه هېواد ته د پاکستان د لومړي وزیر عمران خان له تګ څو ورځې وروسته شوی دی.


دا په داسې حال کې ده چې امریکا تېر کال په دې برخه کې له پاکستان سره د ۹۰۰ میلیون ډالرو پوځي مرسته وځنډوله.

واشنګټن پر اسلام اباد دغه مرسته له دې کبله ځنډولې وه، چې دغه هېواد ترهګرو ته په خپله خاوره کې پټنځایونه ورکړي او د دوی پر وړاندې یې هېڅ اقدام نه دی کړی.

د یادولو ده چې د بارک اوباما په مشرۍ د امریکا حکومت په ۲۰۱٦ ز کال کې پاکستان ته د اتو اېف- ۱٦ الوتکو د ورکړې تړون پر سر خبرې پیل کړې، خو هند په دې هکله سپیني ماڼۍ ته اندېښنه وښوده.

وروسته دا مسئله چې د امریکا کانګرېس ته ورسېده، نو د امریکا حکومت د کانګرېس له سخت مخالفت سره مخ شو.

## په شمالي وزیرستان او بلوچستان کې لس پاکستاني پوځیان وژل شوي دي



د پاکستان پوځ ویلي چې ډیورنډ کرښې ته څېرمه په شمالي وزیرستان کې د یوه وسله وال برید پر مهال، د دغه هېواد شپږ پوځیان وژل شوي دي. د دوی په خبره، دویم برید د بلوچستان په اواران سیمه کې شوی چې له امله یې څلور پوځیان وژل شوي او دری نور ټپیان دي.

پوځ وایي، د شمالي وزیرستان په ګربز سیمه کې برید د هغو وسله والو له لوري شوی چې د افغانستان له خاورې ور اوښتي وو او د پوځیانو د ګزمې موټر یې په نښه کړی دی، خو د پاکستاني طالبانو ویاند محمد خراساني ویلي چې په جنوبي وزیرستان کې شوی برید د دوی ملګرو کړی او اووه پوځیان یې وژلي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په شمالي وزیرستان کې د ۲۰۱۴ ز کال په نیمایي کې پاکستاني پوځ د ضرب غضب په نوم عملیات پیل کړل، چې د عملیاتو له پیل دوه کاله وروسته یې ادعا کړې وه چې دغه سیمه نوره له وسله والو څخه پاکه شوې ده.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې پر شمالي وزیرستان سربېره، په بلوچستان کې هم د پاکستاني پوځیانو پر وړاندې بریدونه زیات شوي چې وخت ناوخت پکې د دغه هېواد پوځ ته درنه مرګ ژوبله اوړي.

## وکلا: به دلیل بی‌کفایتی هیئت اداری جلسه دیروز ولسی جرگه برگزار نگردید



جلسه دیروز ولسی جرگه، به دلیل عدم حضور رئیس جرگه و عدم ترتیب آجندا برگزار نگردید.

رمضان بشردوست نماینده مردم کابل در ولسی جرگه، در صحبت با رسانه‌ها در صحن شورای ملی گفت که جلسه دیروز، به دلیل بی کفایتی و ضعف مدیریت هیئت اداری برگزار نگردید.

وی، عدم برگزاری نشست دیروز را خیانت به ملت عنوان کرده افزود: «امروز(دیروز) به خاطر نداشتن آجندا، اعلان کردند که در کمیسیون‌ها کار کنید؛ درحالیکه در تمام دفاتر کمیسیون‌ها اعضای مجلس سنا جلسه دارند».

موصوف یگانه علت اساسی عدم برگزاری نشست دیروز را راه یافتن وکلای بد، بی احساس، بی مسئولیت و بی تعهد در جرگه خوانده، گفت که این کار وکلا خیانت به ملت است.

بشردوست، با ذکر اینکه هر نماینده مردم در ولسی جرگه، روزانه ٦۵۰۰ افغانی معاش می‌گیرند، گفت که در یک روز معاش یک ماه مامور و اجیر را می‌گیرند؛ اما کار شان معلوم نیست.

این نماینده مردم در ولسی جرگه، با انتقاد از عدم تکمیل نصاب جلسات پس از تعیین هیئت اداری، علاوه کرد: «پس از رای‌گیری و تقسیم دالر، تعداد زیاد وکلا که انجو، شرکت، بانک دارند و در بیرون دالر پیدا می‌کنند، در تالار تشریف نمی آورند».

ابرالله مراد نماینده مردم ننگرهار در ولسی جرگه نیز به برگزار نشدن جلسه دیروز انتقاد کرد وگفت: «هیئت اداری جرگه بسیار ناتوان اند، ظرفیت آماده کردن یک آجندا را ندارند؛ از آنها چگونه توقع رسیدگی به سایر مشکلات کشور را داشته باشیم».

اما امیرخان یار معاون اول ولسی جرگه، از عدم همکاری کمیسیون‌ها انتقاد کرده، گفت که آجندا از طرف کمیسیون‌ها و اعضای ولسی جرگه، در تالار پیشنهاد می‌شود و هیئت اداری صلاحیت ترتیب آجندا را به خواست خود ندارد.

CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی ECW تصمیم دارد به شاگردان عودت کننده از مهاجرت وبیجاشده گان متاثر از جنگ‌های داخلی ولایت کندهار ولسوالی‌های میوند، سپین بولدک، دامان، تخته پل، ارغنداب وزیری کتابهای صنف اول و دوم خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه‌کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af الی (2019/31/7) به دست آورد و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.
procurement@coar.org.af